# د یادونو مقبرو کښې

## (د خان باجه او د جمال کتاب نه تر اوسه)

۷

سعدالله جان برق

بیا هغه خبرې له واپس ځم چې په څومره لږه زمانه کښې څومره ډېره ترقي او بدلون راغلو. د هغه بلې ورځې خبره ښکاري چې رباب او منګې د خان باجه او د جمال کتاب د اعلي درجې تفریحات وو، ریډیو هم چې راغلو نو دا لویه واقعه وه. ما په وړومبي ځل د ریډیو نوم او اواز هغه وخت واؤرېدو چې زما یو ترهٔ چې د فوځ په سګنلو کښې نوکر ؤ، کلي ته یوه پوځي لارۍ چې ګاګړه به ورته وئیلې شول او د هغې لارې په بټرۍ ئې ریډیو غږوله تمام کلے ورته راغونډ شوے ؤ، څهٔ یوه نوې تماشه وه، وارهٔ لوئې ګوتې په خُلهٔ وو چې دا لا کوم جادو دے. یو وړوکے غونډې ډلے دے او د ملکو اوازونه تماشې بیم باجې غږوي څوک ښکاري نه او اوازونه راځي.

زما هم هغه ترهٔ بیا څهٔ موده پس یو شے راوړو چې دوه کپې (ریسورونه) وو ورسره او بله یوه تخته شان وه په هغې څهٔ سپرنګونه غونډې لګېدلي وو، یو ځائے کښې به د رنجوکانې (کرستل) لګېدلے ؤ او بل یو د اوسپنې تار به ئې چې په دغه کانې ولګولو نو په کپو کښې به ریډو راتلو. مونږ وارهٔ وو، هسې خو به دغه ریسورونه دوه وو خو بېل بېل کړي به ئې وو او دوو کسو به اورېدل. مونږ وارهٔ به ورته ټوله ورځ په انتظار ناست وو، د دغه مشرانو خدمت او چاپلوسي به مو کوله چې مونږ له هم لږه د آورېدو موقع راکړي خو هغه موقع څومره وه ریسور به هم هغه سره ؤ، مونږ ته به ئې غوږ کښې کېښودو لږه شېبه به مو څهٔ ټکے نیم یا اورېدلے یا نهٔ چې زر به ئې لرې کړو، خپل غوږ ته به ئې بیا ونیوو او وئیل بس دغه ډېرهوه، تښتی چا به وې د وړو غوږونه ورسره خرابېږي چا به وئیل چې هر څهٔ ئې خرابېږي. زمونږ یو مشر چې ټوله ورځ به ورته پروت ؤ نو چې زمونږ غوږ پورې به ئې ونیولو نو وئیل به ئې ځه ښهٔ بس دے په ډېرو لېوني خوشحالېږي. ما ورته چرته یوه ورځ ووې چې ولې تهٔ لېونے ئې څهٔ. د هغې ورځې نه د مشرانو په نظ رکې زهٔ بلېک لسټ او بې ادبه مشهور شوم خو بیا ورو ورو زما د هغه ترهٔ په وجه دا دغه قسم ریډیوګان زیاتش ول ځکه چې دا به هغه په خپله جوړول خو بس څهٔ تارونه سپرنګونه به ئې داسې داسې کړل او ریسورونه به ئې ورته ولګول د ټولو نه ګران او نایاب ځیز پکښې دغه ریسورونه وو.

ناڅاپه خان کریم خان باجې واله په پېښور کښې چرته یو داسې مستري پېدا کړو چې هم دغه ریډیوګان به ئې د یو وړوکي شان ډبلې په شکل کښې جوړول ورسره به ئې د ټیم نه جوړ شوے یو بمبو غونډې لګولو نو بیا به نزدې ناستو لس اتو کسو بغېر د ریسور نه اورېدو. دا هم د خان انقلابي ایجاد یا دریافت ؤ. د ښار د هغه مستري نامه سردار علي زرګر وه او د صدر په کباړي بازار کښې ئې دکان ؤ، ځکه چې ما ولیدو نو بوډا سړے او عام ریډیوګان به ئې جوړول خو په هغه زمانه کښې صرف خان ته معلوم ؤ او کهٔ د چا به خواهش ؤ، خواش خو د هر چا ؤ خو چې وس به ئې رسېدو او شپږ شله روپۍ به ئې پېدا کولے شوې نو خان به ورسره لاړو او په سردار علي استاذ به ئې دغه د بمبو واله جادو بکس جوړ کړو چې چا به راوړو نو مبارکۍ به وې په ورځو ورځو به ښځې نر خپل

پردي مبارکو له راتلل او دهٔ به د فخر نه ځتې پړسولے ؤ، بلکې بهر به ئې قدم هم لږ بدل شو.

څهٔ موده دا قیصه روانه وه چې ناڅاپه بازار ته غټ رېډیوګان راغلل، خو هغ دپاره بجلي ضروري وه او زمونږ کلي کښې بجلي نهٔ وه نو ډېره موده به مونږ د شپې دوه میله لرې پېښو ته تلو او هلته به مو رېډیو آورېدو.

د پېښو خو مونږ سره دغسې حال ؤ نو اکثر به مو د ځان سره نیني وړلې او یا به مو په لاره د چا نه په غلا ګني مات کړل، ګنډېرې به مو کړل او بیا به مو رېډیو ته په ناسته ناسته عیاشي کوله. هغه رېډیو به په یو هوټل کښې غږېدلو او مونږ به په هوټل کښې ناستو د چایانو څښلو واله ته داسې کتل لکه چې چائے نهٔ څښي شراب څښي. مونږ به د هوټل نه لږ لرې هم په زمکه پراتهٔ وو، کله کله چرته میاشت کښې یو ځل نیم به مو د چایو عیاشي وکړه، هغه ورځو کښې په دوه آنې د تورو چایو او په یوه آنه د شنو چایو غټ چائنک کېدلو چې پنځهٔ شپږ پیالۍ به پکښې وې. په روپۍ کښې به شپاړس آنې وې او د مزدور دیاړي به دولس آنې ورځ وه. د خاروو دپاره به د میاشتې نوکر په درې روپۍ ساتلے شو.

زمونږ کلي کښې هم داسې خلق وو چې رېډیو ئې اخستے شو، خو بجلي صرف تر پېښو راغلې وه نور د ډېرو راج ؤ. زما د ماماګانو به حجره کښې چې په اول ځل لاټېن راغلو نو خلق به ورله دل رې لرې نه صرف کتلو له راتلل.

هغه رېډیو به ډېر غټ ؤ، د لرګي بکس به ؤ او اکثر به ورته وړاندې کپړه لګېدلې وه. یو کس به ایله ګرزولے شو. بیا ډېره موده پس چې زمونږ کلي ته بجلي راغله نو څو ورځې پس ورپسې ټرانزسټر رېډیو هم راغلو. دا لا بله عجوبه وه وئیل به ئې داسې رېډیو را ووته چې په پټي کښې هم غږېږي. خو ټرانزسټر اخستل هم د هر چا د وس کار نهٔ ؤ او زهٔ په خپله خو د هر چا نه ډېر وروستو وم پلار مې د دې څیزونو مخالف هم ؤ او وس مو هم نهٔ رسېدو، بیا چې ما په رېډیو باندې مشاعرې او ډرامې لیکل شروع کړل نو هغه وخت هم زما د پل رېډیو اخستو وس نهٔ ؤ. د یو بل حجره کښې به مې آورېدلو یا به چرته هوټل کښې کښېناستم. بلکې ټې وي چې راغلو نو هم زما دغه حال ؤ، زما یوه ډرامه دوه د چکلالې ټي وي سټېشن نه چې په آغوش کوهستان پروګرام کښې نشر کېدلې نو په هغه شپه به زهٔ ښار ته لاړم هشنغرۍ کښې یو رائل نومي هوټل ؤ، چائے به مې باندې کړې او په چل چل به مې د هوټل په ټي وي خپله ډرامه وکتله چې کله پېښور ته ټي وي سنټر راغلو نو هم ډېره موده ما سره ټي وي نهٔ ؤ. دوه درې کاله پس مې او هغه هم د جمل اپریدي او مطلوب الروف په وېنا او مدد ټي وي په قسطونو واخستو او جمیل صبب راسره په خپل موټر کښې تر کلي نهٔ صرف راوړو بلکې اوئ هم لګولو.

اوس زهٔ کله کله دې ته په فکر کښې شم چې ما په څومره زمانه کښې څومره ډېر څیزونه او تېز رفتاره ترقي لېدلې ده. چرته د ډیوې په رڼا کښې هغه ورځ چې د جمال کتاب به مونږ ته لویه عیاشي راښکارېده او چرته دا ورځ چې کمپیوټر نېټ انټرنېټ، وېډیو، موبائل ټیلیفون مو نهٔ صرف ولیدو بلکې استعمال مو هم کړل. چرته هغه ورځې چې مونږ به د کلي نه په شپږ آنې تر پېښوره تلل راتلل کول او ټوله ورځ به پرې لګېدله ښار ته به چې ټانګه اورسېدله نو ک وچوان به هشنغرۍ یا د خېبر بازار په اډه کښې ټانګه پرانسته. سورلۍ به خپلو کارونو پسې لاړې او په خپل مقرر وخت به ئې ځان را ورسولو او نن د هوائي جهاز دا حال دے چې زهٔ څو ځله هم په یوه ورځ کښې لاهور ته تلے راغلے یم او یو ځل کراچۍ ته هم سحر اووهٔ بجې لاړم دوه ګېنټې کښې ورسېدو د نهو بجو نه ترې دریو بجو مې خپل کرا وکړو او درې نیمې بجې بیا راسور شوم او اووهٔ بجې بیا خپل کور کښې ناست وم. کله کله خیال کوم چې ډېر لرې نهٔ کهٔ صرف زما د نیکهٔ د زمانې خلق ژوندي شول نو د حېرانتیا نه به بې هوشه شي چې دا کومه دنیا ده.▪